مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد ایاز نوری ۲۰۲۵/۰۶/۲۸

د افغانستان اسلامي امارت ته زما دغه وړاندیز

لکه څنګه، چې وینو زمونږ د ګران هېواد افغانستان له تېرو ۴۰ کلونو څخه د افغانانو د مهاجرت د لویې معضلې سره مخامخ ؤ او ده. په حال کې زمونږ دوه ګاونډ هېوادونه پاکستان او ایران د هلته میشته زمونږ مهاجرینو وروسو او خویندو سره سخت بد سلوک را اخیستی او په زور یې د خپلو هېوادونو څخه افغانستان ته راشړي. اسلامي امارت دا وضعیت واضحه ویني، چې دغه دوه زمونږ ګاونډیان له پخواء مونږ ته نیک نیت نلري، خصوصاً دوی غواړي، افغانستان کې سیاسي ګړکېچ مستمر دوام ولري او افغانستان یو وارداتي هېواد پاته سي او دوی یوه اړخیزه ګټه ورنه پورته کړي. دم ساعت د ایران اړوند زمونږ په اسلام قلعه او د پاکیستان اړوند د تورخم په سیمه کې د مهاجرینو کړاوونه هر څوک ویني او دا لږی به نوره هم دوام مومي، بناً زه منحیث د یوه افغان اسلامي امارت ته دا وړاندیز کوم:

تاسو د حکومت په حیث یو «ځانګړی بانکي حساب» د را شړل سویو او نویو راتلوونکو افغان مهاجرینو لپاره پرانیزئ. دغه بانکي حساب ته زه د هر وسمن افغان څخه، که هغه تجار وي او یا عادي بهر میشته افغان وي آرزو کوم، په میاشتني ډول د خپل وس په اندازه پیسې ور حواله کړي، او دا پیسې باید په دقیق ډول د حکومت د نظارت لاندې د یوه کمیسیون په ذریعه، زمونږ د مظلومو مهاجر وطن والو د خوراک او نورو ضرورتونو لپاره ورته استعمال سي. هیله مند یم، زما دغه وړاندیز ته امارت اسلامي نن د حکومت په حیث جدي توجه وکړي او د عمل جامه وروا غوندي.

پای

مطالب نشر شده از **محمد ایاز نوری** در پورتال افغان جرمن آنلاین

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ